## سرلیکنه ...

# دهېوادوالو ستره هیله؛ د داېمني سولې راتګ او د جګړې درېدل دي!

یوازینۍ هیله او غوښتنه چې افغان ولس یې له ځانه لري، هغه په هېواد کې تلپاتې او داېمنه سوله ده، ځکه ټول هېوادوال له جګړو ستړي شوي دي نه غواړي، چې نور په جګړیزو حالاتو کې ژوند پر مخ یوسي، هېوادوال تل د سولې تږي دي او هیله یې همدا ده، چې جګړه دې په هېواد کې پای ته ورسیږي او د داېمن افغانستان خاوندان شي.

ولسونه د تېر په شان یو ځلې بیا خپل غږ پورته کړی؛ وایي، چې دواړه په جنګ ښکیلې لوري دې دافغانانو په خیر او فلاح سولې ته غاړه کیږدي او سولې ته د رسیدو په موخه روانو خبرو ته دې مثبته پایله ورکړي، ترڅو افغانان خپلو حقه غوښتنو ته ورسیږي.

د څه باندې یوې نیمې میاشتې په لړکې د هېواد په زیاترو سیمو کې جګړو ډېر شددت موندلی، چې ډیری بې ګناه کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړل، ډیری کورنۍ د ویر په ټغیر کیناستلې، چې دا د همدې بدبختې جګړې پایله ده، چې افغان ولس په خپل هېواد کې دردېږي او لالهانده ژوند پرمخ وړي.

که چیرې په هېواد کې جګړه او بدبختۍ شتون نه درلودی، نو دا جوته خبره ده، چې نن ورځ به زموږ هېواد له هغو هېوادونو سره سیالۍ ته مخه کړې وای، چې اوس هماغه هېوادونه زموږ په بې اتفاقۍ دمستۍ ډګر ته راوتي دي او څه یې چې زړه وغواړي، پرموږ یې تحمیلوي. ځکه زموږ د ضعف ټکی ته په کتو دوی خپلې لوبې روانې کړي دي او زموږ له جګړو باج ترلاسه کوي.

افغان ولس د کوچني اختر له دریو ورځو زښته ډېر د آرامۍ خوند واخیستل، بې حده زیات ځان یې دآرامۍ په جامه کې احساسول. خو که چیرې همداسې تلپاتې سوله په هېواد کې راشي، ټول افغانان به په آرامه توګه ساه واخلي، هیواد او ولس ته به بې سارې خدمتونه وړاندې کړي، نور به یې لاسونه بهرهېوادونو ته نه وي غځیدلي، هېواد به د ځانبسیاینې او خودکفایۍ په لوري خوځښت پیدا کړي او کدري ځوان به دهېواد په دننه په کاروبار بسیا واوسي.

دا هرڅه ممکن دي، خو چې په هېواد کې داېمنه سوله او امنیت شتون ولري، دې موخو ته رسیدل یوازې او یوازې شعاري یوالي نه؛ بلکې په عمل کې یو بل ته لاسونه ورکړل شي، چې دښمن نور په دې ونه توانیږي دافغان ولس په منځونو کې درزونه پیدا کړي. نن ورځ دافغانستان هر وګړی که سپین ږیری دی، که توری ږیری، ځوان دی، که بډا دی، ښځینه دي که نارینه آن تر ماشومانو پورې همدا یوه خبره د دوی په خولې ښکته او پورته کیږي، چې سوله! سوله! سوله!

په تېرو شننو او لیکنو کې د سولې په ارزښتونو، ګټو او مزایاوو ډیرې خبرې وشوې او هر وګړی هم په دې ښه پوهیږي، چې په آرامه فضاء کې ژوند څومره ښکلی او په جګړیزه فضاء کې څومره بدرنګه دی، خو ددې لپاره چې بحث اوږد نه شي، یوازې او یوازې افغان ولس په دولت او طالبانو غږ کوي، چې اوربند وکړي او بیا دې په آرامه او سړه سینه د سولې رسیدو موخو لپاره خپلې خبرې اترې پیل او پایله یې مثبته اعلان کړي.

بیا هم افغان ولس دواړه لوري ته د عذراو زاری ځولۍ غوړوي؛ چې روان او ناڅرګند ناورین ته خاتمه ورکړي، ځکه په جګړې کې هر لوري او تر څنګ یې ولسونو ته ځاني زیانونه اوړي. خو بهتره ده، چې دواړه لوري دې یو څه له خپلو ګټو نه تېر شي، دیو بل خبرې دې په ورین تندي ومني، چې دا به یې د ولس لپاره لویه قرباني ورکړې وي او دغه ستره شهکاري به یې په تاریخ کې راتلونکي نسلونو ته ثبت پاتې شي، چې د خپلو ګټو پر وړاندې د ولس او هېواد ګټې دوی مقدمې بللې.

راځئ، نن د همدغو ناچاره افغانانو همدا یو غږ ته لبیک ووایو، د ټولو اوښکې پاکې کړو، روان ناورین ته د پای ټکی کېږدو او پر افغان ولس چې سوله یې له هرڅه نه وړاندې لویه هیله او غوښتنه ده ور پوره یې کړو او د سوله ئیز ژوند په دوام خپل ګران افغانستان ته ټول افغانان خدمت وکړي!

اداره

# باصلح آرزو های ما گره خورده!

چهارده جنگ یا یک نسل ماندن در تاریکی و بدبختی، ما را با صلح بی گانه کرده، آشنایی و همراه بودن ما با تفنگ، انفجار و ویرانی ها بیشتر است تا صلح، امنیت، رفاه، پیشرفت و ترقی جامعه ما.

به جای این که ما نسل جدید و جوان برای مسیر زندگی آینده خود وکشور آرزو های بزرگ، اهداف روشن برای سعادت زندگی خود، همسو و همگام بودن کشور ما با جهان مدرن که همراه با آسودگی و رفاه اجتماعی می باشد، فکر کنیم.

آرزوی بزرگ ما وحشت زده گان جنگ، خونریزی و ویرانی ها در عالم خیال دست یابی به نیاز های اولیه انسانی، امنیت جانی، مالی و نجات از فقر می باشد.

جنگ تحمیل شده که مارا مانند دانه های سترنج استعمال می کند و بار درد، رنج ها و زیان های مالی و جانی آن را ما افغان ها بردوش خود حمل می کنیم، و قربانی آن ما شده ایم، مارا از مسیر اصلی که کار برای ساختن خود، آبادانی کشور می باشد دور کرده است. دقیقا این جنگ است که سد راه آرمان ها و آرزو های بزرگ ما شده، ما را نمی گذارد تا زندگی آرام، دست یابی به تحصیل تخصص محور، پیشرفت و ترقی را تجربه کنیم.

اینجا است که ما را چندین دهه از جهان اول که همانا تجربه کردن یک زندگی با کمال اکتشافات جدید و فراهم آوری زندگی آرام و آسودگی است دور کرده است. با صلح آرزو های ما گره خورده. این صلح است که راه را برای کار و کوشش برای تغییر مثبت وضعیت کنونی باز کرده و فرصت می دهد تا نسل جدید آینده خود را ترسیم کرده و برای دست یابی به آن در آیند روشن مطمئن باشند.

اگر به صلح دست یابیم، چه وضعیت بر جامعه ما حاکم می شود؟

:- اگر صلح بیاید، ما به مصونیت جانی دست میابیم و ۹۰ درصد قربانی جانی یا مرگ ما که به سبب جنگ بوده کاهش می یابد که این بزرگترین دست آورد صلح خواهد بود.




:- اگر صلح بین الافغانی شود، دیگر افغان ها در مقابل هم قرار نمی گیرند و در مقابل دشمن بیگانه همه یک صف شده و از کشور شان دفاع خواهند کرد.

:- اگر صلح بین الافغانی رقم بخورد، صفوف نیرو های نظامی ما بیشتر و مستحکم تر می شود.

:- بعد از صلح مردم شهر و دهات از هم بی گانه نخواهند بود، افغانستان بزرگ شکل خواهد گرفت و در های دهات ما با شهر های ما وصل خواهد شد، این جا است که ما پیشرفت و انکشاف متوازن کشور را تجربه خواهیم کرد.

:- صلح کمک می کند تا تمام ولایات کشور مکاتب و پوهنتون های یکسان فعال و پیشرفته را صاحب شوند.

:- صلح باعث می شود تا خواهران و برادران ما به تعلیم و تحصیل رو آورند و گراف سواد بلند رفته، باعث تغییر مثبت شود.

:- صلح باعث می شود تا هزینه گزاف که برای جنگ تخصیص شده، در انکشاف و توسعه همه جانبه کشور مصرف نماییم.

:- صلح کمک می کند تا یک ملت واحد، یک دولت مقتدر و یک افغانستان بزرگ و مترقی داشته باشیم. بلی صلح ما را به آرزو های مان میرساند. بیایید صلح کنیم!

**محمد عارف (وياند)**

# په بین الافغاني خبرو کې به د ټول ولس استازیتوب وشي!

څو میاشتې کیږي، چې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر سره د بین الافغاني خبرو لړۍ پیل شوې ده، چې په دې خبرو کې ۱۷ کسه غړیتوب لري چې ښځې هم پکې شاملې دي.

دغه ټیم د افغانستان د بېلابېلو قومونو، ګوندونو او نورو سیاسي څېرو څخه جوړ شوی دی، چې په بین الافغاني خبرو کې موثر او ګټور ثابت شوی دی.

په دې ټیم کې پښتون، تاجک، ازبک، ترکمن، پشه یي او نور قومونه شتون لري او ګډونوال یې داسې سیاسي څېرې دي، چې له دې وړاندې هم په دولت کې په لوړو بستونو باندې کار کړی او د سولې په خبرو کې کافي تجربه لري.



ددې ټیم سربېره د سولې خبرو د پرمخ وړلو لپاره دننه په هیواد کې هم بېلابېل ارګانونه شتون لري، چې په دې پروسه کې دخیل دي او د ښه پرمخ بیولو لپاره یې کار کوي. له دې ارګانونو څخه یې یوه هم د مصالحې عالي شورا ده، چې د هیواد لوړ پوړي بانفوذه اشخاص، دیني عالمان، قومي مشران، د سیاسي ګوندونو استازي او سیاستوال پکې غړیتوب لري.

د بین الافغاني خبرو دغه ټیم وخت په وخت له ولسمشر او نورو بنسټونو سره خپل مالومات شریکوي او بیرته په ګډه تصمیم نیسي، چې له کومو لارو چارو کولای شي دغه خبرې اترې په سم ډول پرمخ لاړې شي.

د هیواد هر وګړی حق لري، چې د سولې په خبرو اترو کې خپل نظر ورکړي او دغه پروسه له نږدې وڅاري. همدا ډول هر افغان دا وجیبه لري چې د سولې په پروسه کې مرسته او همکاري وکړي تر څو دې هیواد ته یوه باثباته سوله او آرامۍ راشي. هر افغان حق لري، چې د سولې په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او اندیښنې د بین الافغاني خبرو اترو له غړو سره شریک کړي او د تصمیم نیولو په وخت کې ترې کار واخیستل شي.

که چېرې د بین الافغاني خبرو اترو له ټیم سره همکاري وشي او هغو ټکو ته متوجه شي چې د سولې لپاره ترې کار واخیستل شي نو له یوې خوا به د ټول ولس استازیتوب شوی وي او له بلې خوا به د سولې په برخه کې لویه همکاري شوې وي.

**خالد «نېکزاد»**

# د دې پنځلس مهمو ټکو په مراعاتولو سره ښه رییس واوسئ!

**ژباړه: عطا محمد میاخېل**

**د کسب و کار او رهبرۍ د کار پوهانو په اند د یوه ښه رییس ۱۵ نښې نښانې عبارت دي له:**

**۱ ــ مهربان دی؛**

**یو ښه رییس هغه څوک دی، چې خپلو کارمندانو ته لومړیتوب ورکوي او په دې باندې پوهېږي، چې کله وخت د ژوند پېښې زموږ له کنټرول څخه بهر دي. یو ښه رییس په سختو او ستونزمنو شرایطو کې خپلو کارمندانو ته د کړنو آزادي او په نفس باندې اعتماد ورکوي، ترڅو هغو وکولای شي، په راتلونکې کې خپل کار په سمه توګه ترسره کړي.**

**۲ ــ کارمندان یې د آرامتیا احساس کوي؛**

**ستاسو د لاس لاندې خلک داسې احساس کوي، چې په ډېرې آسانۍ سره کولای شي، چې خپلې طرحې او نظریې له تاسو سره شریکې کړي، د دې له ویلو څخه چې په څه باندې نه پوهېږي، ونه وېرېږي او خپلې تېروتنې ومني. که چېرې دا ډول ځانګړتیاوې لرئ، نو یو ښه رییس یاست، ځکه ستاسو کارمندان کولای شي خطره منونکي واوسي او خپل افکار په ډېرې هوساینې او آرامتیا سره بیان کړي، دا مورد د لا بریا او ګټې د رامنځته کېدو سبب ګرځي او کارمندان به ډېر کم اروایي فشار ولري، دغه راز هغوی کولای شي، د لوړ خطر پرمهال ښې او اغېزمنې کړنې ولري.**

**۳ ــ خپله معلومات لري؛**

**تر ټولو غوره رهبران هغه کسان دي، چې د خپلو انګېزو په اړه معلومات لري او د تصمیم نیونې توان او وړتیا لري. خپله معلومات لرل د بریالیو مدیرانو یوه له اړینو ځانګړتیاوو څخه ده، په داسې حال کې، چې د دې صفت روزنه د ډېرې کسانو لپاره آسانه نه ده.**

**۴ ــ د ټیمي کار له اصولو او قوانینو سره آشنا دي؛**

**کله چې ټول یا مشتریان، ستاسو له ټیم سره مله دي، هېڅوک نه شي کولای، پوه شي، چې رییس څوک دی، ځکه یوه ښه رییس، خپل کسان په سمه توګه سازماندهي کوي او په سم تګلوري ورته لارښوونه کوي.**

**۵ ــ د خپلو کارمندانو د پرمختګ اسباب او وسایل چمتو کوي؛**

**کله چې ښه کارمندان لرئ، نو هڅه کوئ، چې وې ساتئ، ځکه لوړه ګټه او اغېزمنتیا لري، خو د هېڅا نه خوښېږي، چې د اوږدې مودې لپاره په یوه ټکي کې پاتې شي. هڅه وکړئ، چې د هغوی له لید څخه دې قضیې ته وګورئ او د هغوی د ودې او پرمختګ لپاره شرایط برابر کړئ، که چېرې هغوی په خپل کار کې وده او پرمختګ ونه لري، له تاسو سره به پاتې نه شي، کله وخت د هغوی د پرمختګ شرایط ستاسو په شرکت کې رامنځته کېږي او کله وخت شونې ده، چې د هغوی لپاره ستاسو له شرکت څخه بهر فرصتونه برابروي.**

**۶ ــ عدالت کوي؛**

**ښه رییسان د نورو نظرونو ته په سمه توګه غوږ نیسي، ښایي کوم څوک تاسو ته ښې او بدې خبرې وکړي، پوهېږي، چې د خوړو له خوړلو وروسته خواړه مو په غابښونو کې نښلي؟ خوښېږي مو نه چې دا ډول یوه جمله واورئ، خو د نورو نظرونو ته په سمه توګه غوږ نیول، د یوه بریالي ټیم په رامنځته کېدو کې ډېر مهم او حیاتي دي.**

**۷ ــ سخت ګیر او جدي دي؛**

**د یوه ښه مدیر په توګه د کارونو د ترسره کولو او موخو ته د رسېدو ترڅنګ، باید په ډېره جدي توګه خپلو افرادو ته لارښوونه وکړئ. مکافات د کارونو د بریا ضمانت کوي او د دې سبب ګرځي، چې افراد لا ډېر مسوولیت منونکي واوسي او ننګونې په پرانیستې غېږه ومني. تر ټولو غوره رییسان هغه کسان دي، چې جذاب یا ستړي کوونکي او اړین کارونه یو د بل ترڅنګ ځای پرځای کوي.**

**۸ ــ کولای شي د نورو په مرسته خپل کارونه پرمخ یوسي؛**

**ښه رییسان خپل وضعیت بررسي کوي او د هغو کسانو په ګمارنې سره، چې پوهه او ښه مهارت لري، خپل کارونه ترسره کوي، زه د ټیټې کچې له اجرایه مدیرانو څخه د یوه ټیم په تشکیل باندې بشپړ باور لرم، چې کولای شي، له کارمندانو سره مرسته وکړي، ترڅو مهم تصمیمونه ونیسي او په مستقله توګه ټول کارونه پرمخ بوځي او دغه راز ټولو ته د چارو سپارل او نورو ته د افکارو د بیان اجازه ورکول، په ټیټه کچه کې د اجرایه مدیرانو د روزنې تر ټولو مهم ټکي دي.**

**۹ ــ روڼتیا (شفافیت) رامنځته کول؛**

**یو ښه مدیر یا رییس تل روڼتیا رامنځته کوي. د کارمندانو او د کار ځای د روڼتیا ترمنځ تل مستقیمه اړیکه شتون لري. هغه رهبران او مدیران، چې روڼتیا رامنځته کوي، د کارمندانو ترمنځ تل له ډېر درنښت څخه برخمن دي.**

**۱۰ ــ د خپل ټیم الهام ښونکي دي؛**

**څه شیز د دې سبب ګرځي، چې یو مدیر، نورو ته د چارو سپارلو، د کارمندانو د کارونو د مدیریت او یا د خپلو ورځنیو دندو د ترسره کولو توان او وړتیا ونه لري. هغه څه چې له افرادو څخه یو ښه رییس جوړوي، د هغوی د الهام ښښلو وړتیا ده، چې البته دا کم پیدا ګوهر دی. هغه رییس، چې کولای شي، په خپل ټیم باندې اغېز ولري، له هغه صنعت او برخې څخه بهر، چې پکې کار کوي، کولای شي د خپلو کارونو پایله وګوري. په افرادو باندې مدیریت آسانه کار دی، خو الهام ښښونکی اوسېدل او په هغوی اغېز ښندنه، یو ځانګړې مهارت او تجربه غواړي.**

**۱۱ ــ له خپلو کارمندانو څخه مننوی دي؛**

**یو ښه رییس تل له خپلو کارمندانو او د هغوی له هڅو څخه مننویي کوي، پرته له دې چې داسې احساس وکړي، چې له شان څخه یې څه کم شوي دي. ښه رییسان په دې باور دي، کله چې کارمندان داسې احساس وکړي، چې کار یې د رییس له خوا د منلو وړ دی، نو لا ډېره هڅه کوي، چې هوښیارانه کړنې ترسره کړي او لا ډېره وفاداري به ولري.**

**۱۲ ــ د چارو جوړښت مشخص کوي؛**

**هڅه وکړئ، چې هر کارمند ته مشخص جوړښت ورکړئ، ترڅو په دې باندې ډاډمن شي، چې د خپلو دندو له لایحې او مسؤولیتونو څخه خبر دي، هغوی ته روزنه ورکړئ او په چارو باندې یې مسلط کړئ، په ځینو مواردو کې، که چېرې تاسو تل هغوی ته نوې دندې وسپارئ او په مسؤولیت کې یې بدلون را منځته کړئ، نو په سر درګمۍ باندې اخته کېږي، چې دا برعکس پایله لري.**

**دمطلب پاتې برخه په څلورم مخ کې**

# روش های موثر در رسانه ها



درجهان امروز وسایل ارتباط جمعی روزنامه ها، رادیو ها، تلویزیون و سینما با انتقال اطلاعات ومعلومات جدید وتبادله افکار وعقاید عمومی درراه پیشرفت فرهنگ، ذهنیت سازی وتمدن بشری نقش اساسی رابه عهده گرفته اند که بسیاری ازدانشمندان عصر کنونی راعصرارتباطات در اجتماع مسما نموده اند.

تاجایکه پیشرفت وسایل ارتباط جمعی وتوسعه اجتماعی وتفاهم بین المللی لازم وملزوم یک دیگرشده اند دراین جوامع انسان ها کوشش میکنند همیشه درجریان همه اموروسایل اجتماعی قرارداشته باشند تابتوانند بطورمستقیم یا غیرمستقیم نقش خاص خویش رادرزندگی گروهی واجتماعی ایفا نمایند، به همین ترتیب آگاهی اجتماعی ازمهمترین ویژگی های زمان بشمار میرود واین آگاهی است که انسان رابه زندگی فردی واجتماعی علاقمند میسازد وتوجه اورابه آزادی ها ومسئولیت های وی جلب میکند.

روش های موثر در رسانه ها کار دشوار می باشد، دشواری آن مبتنی بر فهم سازوکارهای مدیریتی در عرصه اطلاع رسانی است که آن هم مربوط به عوامل درون سازمانی (خبرنگاران، ژورنالیستان، مدیران، سردبیران، سیاست های رسانه هامیباشد) و عوامل بیرون سازمانی (مردم، مخاطبین، صاحبان نظران، قوانین و مقررات مطبوعاتی و توجه به خط مشی در جامعه) است، این دشواری و چند پهلو بودن در حوزیی مدیریتی زمان بهترمدیریت می گردد که ما به عنوان کارگزار، مدبر، با درایت و مسئولانه میتوان آنرا مدیریت کنیم وبرای دست یابی به کاهش و رفع این دشواری ها و نیز در عرصه مدیریتی رسانه ها بهتر است روش های موثر را فرا بگیریم تا داشته های فکری وتجربوی مانرا درعمل پیاده نمایم، مدیریت در رسانه ها سازماندهی و عملکرد بر خط مشی رسانه های است که چشم انداز ما را در عرصه اطلاع رسانی به شکل پویا شکل می دهد که میتوان روش های موثردرمدیریت رسانه ها را به سه دسته تقسیم نمود:

1- عملی نمودن برنامه های باارزش وموثرکه برای مخاطبین خود آگاهی درست رسانیده بتواند.

2- داشتن خلاقیت وتنوع درعرصه های کاری. بهتر وخوبتر.

3- ترتیب طرح و عملی نمودن برنامه رسانه یی.

**بقیه مطلب در صفحه چهارم**